**مطبوعاتي اعلامیه**

## د پاکستان د اقتصاد زړه (کراچۍ) د الله سبحانه وتعالی د حکم خلاف د حریصو پانګوالو لاس ته لوېدلې ده

د کرونا ویروس له خپرېدو سره، د پاکستان د اقتصاد زړه (کراچۍ) د برېښنا سکټور له ماتې سره مخ کړی دی. کله چې په اوړي کې ګرمي اوج ته رسېږي، K-Electric د برېښنا په رسولو کې پاتې راځي، چې د ډېر فشار له امله د خلکو ملاتړ له لاسه ورکوي. په ۲۰۰۵م کې، د دې لپاره خصوصي سکټور ته وسپارل شو چې K-Electric ته وده ورکړل شي او د دولت له اوږو بار سپک کړي. پنځلس کاله وروسته K-Electric په داسې حال کې چې خلک ډېر زورور دي، د حریصو پانګوالو د مالکینو لپاره پیسې راټیټوي. K-Electric یوازې په تېرو اتو کلونو کې ۱۲٦میلیارده روپۍ عاید تر لاسه کړي دي، خو له خپل مالي ځواک سربېره K-Electric د خالصو تېلو څخه د برېښنا تولید بندوي، تر څو د ملي برېښنا څخه د ارزانه برېښنا په پېرلو سره د ګټې اندازه لوړه کړي. K-Electric لومړی برېښنا پرې کوي، چې د خلکو چیغې پورته شي، تر څو فدرالي حکومت د عامه فشار له عذر څخه په ګټه اخیستلو سره له ملي طناب څخه اکمالات وکړي. سربېره پر دې فدرالي حکومت کوټې ته د ګاز اضافي اړتیاوې چمتو کوي، تر څو K-Electric وکولای شي له ګاز څخه برېښنا تولید کړي. لکه څنګه چې ښکاري دا کافي نه ده، دوی غواړي د ګټو اندازه لوړه کړي، ناورین د عذر په توګه کاروي، حکومت د K-Electric په غوښتنې سره د برېښنا نرخ لوړوي. د ۲۰۲۰م، د جولای په ۴مه د برېښنا نرخونه ۲۲٫۵٪ لوړ شوي دي.

برېښنا، تېل او ګاز د هر اقتصاد د ملا تیر ګڼل کېږي. په داسې حال کې چې لږ او ډېر لګښتونه یې د فلج کېدو لامل هم کېږي. دا روښانه ده چې د برېښنا، تېلو او ګازو خصوصي کول د حریصو پانګوالو له لوري د پیسو مینځلو ته لاره هواروي او دا مصنوعي نمیګړتیاوې رامنځته کوي، نرخونه لوړوي، د خلکو په ډېر لګښت کې ګټه کوي. دغه راز پانګوال اقتصادي نظام د برېښنا، تېلو او ګازو خصوصي کولو ته اجازه ورکوي، په داسې حال کې چې د ډیموکراسۍ واکمنان د قانون جوړونې قدرت لري، تر څو خصوصي مالکینو ته اسانتیاوې برابرې کړي. په دې وروستیو کې د تېلو په سکټور کې هم ورته کړکېچ رامنځته شو، چې د تېلو بازارموندنې شرکتونو په ټیټو نرخونو د خپلو محصولاتو له پلورلو څخه انکار وکړ او نیمګړتیاوې یې رامنځ ته کړې. کله چې نرخونه لوړ شول، د پټرولو محصولات په فوري توګه د لاسرسي وړ وګرځېدل.

د پاکستان مسلمانان به یوازې هغه وخت له کمزورې برېښنا او د نرخونو له لوړوالي خلاص شي، چې د الله سبحانه وتعالی قانون پلی شي. د نبوت پر منهج د خلافت دولت به د برېښنا تولید او توزیع نه خصوصي کوي،

ځکه چې اسلام يې د عامه ملکيت په توګه اعلانوي او دولت يې بايد پخپله نظارت وکړي. رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي:

**«الْمُسْلِمُونَ شُرَكَاءُ فِي ثَلَاثٍ الْمَاءِ وَالْكَلَإِ وَالنَّارِ»**[رواه: احمد]

***ژباړه:*** *مسلمانان په دريو شيانو کې شريک دي، اوبه، څرځايونه او اور انرژي.*

يوازې د خلافت تر چتر لاندې به مسلمانانو ته په ارزانه بيه د بې پايه برېښنا اکمالات ورکړل شي، ځکه چې دولت به د عامه ملکيت د مسوول سرپرست په توګه عمل کوي.

**د حزب التحرير- ولايه پاکستان مطبوعاتي دفتر**

**۱۴۴۱هـ. ق، د ذی القعدې ۱۹مه**

**۲۰۲۰م، د جولای ۱۰مه**

**د صدور ګڼه: ۱۴۴۱/۷۷**